امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

هفته نامه
# مدیریت حوادث

۲۶ عقرب الی ۱ قوس ۱۴۰۳

شماره هشتاد و سوم



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هیلوېټرست THT نړیوالې مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدين ترابي په خپل کاری دفتر کې د هیلوېټرسټ نړیوالې مؤسسې د رئیس ډاکتر احمد فرید همایون او د اړیکو مسؤل الهام الله مصطفی سره وکتل.

ترابي صاحب په خپلو خبرو کې د هیلوېټرسټ نړیوالې مؤسسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووېل او زیاته یې کړه, چې ماینونه او ناچاودی توکی د خلکو لپاره یو ستر ګواښ دی چې په دې اړه خلکو ته باید عامه پوهاوی ورکړل سی او ماینونه په خوندی توګه له منځه یوړل سی...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سر د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د پراختیایی همکاریو خیریه مؤسسې CESVI ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سر د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي، د پراختیایی همکاریو خیریه مؤسسې CESVI د مالي او بشری سرچینو رئیس نعمت‌الله عارض او د اړیکو او همغږۍ مسؤول محمود درانی...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د مهاجرت نړیوال سازمان IOM له رئیسې سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي د مهاجرت نړیوال سازمان IOM د نوی ګمارل سوې رئیسې میا پارک، د بېړنیو حالاتو مسؤل فهیم صافی او د اړیکو مسؤل محمد سلیم خالد سره...

ادامه در صفحه۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لس کسه رییسان او کارکوونکی د پېښو او زلزلې په اړه ورکشاپ کې د ګډون په موخه ترکیې هېواد ته سفر وکړ



د ترکیې هېواد لخوا د زمینې برابرولو او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې محترم مقام د لارښوونې پر بنسټ, د دې ادارې لس کسه مرکزی او ولایتی رییسانو او کارکوونکو د پېښو او زلزلې مدیریت په اړه ورکشاپ...

ادامه در صفحه ۴

# له پیښو سره د مبارزې ملي ادارې آمادګۍ او د هیلوټرست THT نړیوالې مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک سوه




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاري دفتر کې د هیلوټرسټ نړیوالې مؤسسې د رئیس ډاکتر احمد فرید همایون او د اړیکو مسؤل الهام الله مصطفی سره وکتل.

ترابي صاحب په خپلو خبرو کې د هیلوټرسټ نړیوالې مؤسسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووېل او زیاته یې کړه, چې ماینونه او ناچاودی توکی د خلکو لپاره یو ستر ګواښ دی چې په دې اړه خلکو ته باید عامه پوهاوی ورکړل سی او ماینونه په خوندی توګه له منځه یوړل سی.

وروسته د هیلوټرسټ نړیوالې مؤسسې رئیس ډاکتر احمد فرید همایون له ترابي صاحب څخه ځانګړې مننه وکړه, چې وخت یې ورکړ او زیاته یې کړه چې یادې ادارې تل زموږ سره همکاری کړې ده او موږ هم تل کوښښ کوو چې خلکو ته عامه پوهاوی ورکړو ترڅو له چاودېدونکو توکو څخه خوندی پاته سی.

د یادونې وړ ده چې د ۱۶۸۵۶۳۳ یو میلیون شپږ لکه 5 اتیا زره شپږ سوه درې دېرش ډالرو په ارزښت به یاده مؤسسه په زابل، ارزګان، هلمند، غور، فاریاب او بدخشان ولایتونو کی ۷۰۰۰۸۶ اووه میلیونه او شپږ اتیا متره مربع ککړې سیمې له ماینونو او ناچاوده توکو څخه پاکی کړی او ۵۲۸۰۰ کسانو ته به عامه پوهاوی هم ورکړل سی.

# له پېښو سر د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د پراختیایي همکاریو خیریه مؤسسې CESVI ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سر د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي، د پراختیایي همکاریو خیریه مؤسسې CESVI د مالي او بشري سرچینو رئیس نعمت‌الله عارض او د اړیکو او همغږۍ مسؤول محمود درانی سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

ترابي صاحب په دې ناسته کې د یادې مؤسسې پلاوی ته ښه راغلاست ووېل او څرګنده یې کړه چې موږ په هر حالت کې له مرستندویه مؤسسو سره همکار یو، څکه هغوی په هره برخه کې چې کار کوی زموږ د هیواد خلکو ته مرستې رسوی.

په همدې حال کې، د یادې مؤسسې د مالي او بشري سرچینو رئیس نعمت‌الله عارض د دې ادارې له‌خوا د مرستندویه مؤسسو لپاره د مرستو رسولو په برخه کې د اسانتیاوو برابرولو له امله خپله خوښی څرګنده کړه او ویې ویل چې له دې تفاهم‌نامې څخه وروسته به پروژې په بېړنۍ توګه پلې شي.

د یادونې وړ ده چې د لاسلیک شوې تفاهم‌نامې له مخې به په مجموعی ډول د ۴۶۹۰۳۸ ډالرو په ارزښت په لاندې ډول فعالیتونه د هرات ولایت په د زنده جان ولسوالۍ کې ترسره شي:

۱- د زنده جان ولسوالۍ په زلزله ځپلو سیمو کې ویجاړې شوی ځاګانې به ترمیم شي او همدارنګه خلکو ته به د حفظ الصحې په اړه معلومات ورانديږ شي، په داسې ډول چې ۲۰ هغه ځاګانې چې اساسی ترمیم ته اړتیا لری او ۴۰ هغه ځاګانې چې جزیی ترمیم ته اړتیا لری، هغه ځاګانې به ترمیم شي. همدارنګه د حفظ الصحې په برخه کې به د ځارنې او عامه پوهاوی ټیمونه جوړ شي.

۲- د زنده جان ولسوالۍ په ۵۰ کلیو کې به د طبیعی پېښو لکه سېلابونو، زلزلې او طوفانونو خطرونه ارزول کېږی او د خطرونو سیمې به د په نښه کېدو څخه وروسته، خلکو ته د دې په اړه عامه پوهاوی ورکول کېږی.

۳- په همدې وخت کې به د زنده جان ولسوالۍ په ۵۰ کلیو کې د خطرونو کمولو او د پېښو پر مهال د پلټنې او ژغورنې لپاره د کلی ټیمونه جوړ شي او ۱۰۰ کسانو ته به عصری روزنه ورکړل شي، ترڅو هغوی ترلاسه شوی معلومات له نورو خلکو سره شریک کړی.

۴- د زنده جان ولسوالۍ په ۵۰ کلیو کې به د طبیعی پېښو د مدیریت پلان ترتیب شي، چې په هغه کې د خطر او د زیانونو د کمولو نقشه، اضطراری نقشې، د خطرونو مدیریت او لومړنی خبرتیایی میکانیزمونه شامل دی.

۵- د زنده جان ولسوالۍ په ۵۰ کلیو کې به د بیړنیو حالاتو کیټونه وېشل کېږی، ترڅو د خطرونو پر مهال د زیانونو د کمولو لپاره ترینه کار واخیستل شي. په دغو کېټونو کې لوډ سپیکر، پړی، د ژغورنې واسکټ، څراغونه، کلنګ، د لاس ګاډۍ او خیمې شاملې دی.

۶- په ۵۰ کلیو کې به د خطرونو کمولو په موخه د عامه پوهاوی پوسټرونه او بروشورونه وېشل کېږی.

۷- د طبیعی پېښو د خطرونو کمولو لپاره به په ۵۰ کلیو کې ۱۰،۰۰۰ مثمر او غیر مثمر نیالګی کرل کېږی.

۸- په دې ولسوالۍ کې به د سېلابونو د خطرونو د کمولو په موخه دوه استنادی دیوالونه جوړېږی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د مهاجرت نړیوال سازمان IOM له رئیسې سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د مهاجرت نړیوال سازمان IOM د نوی ګمارل سوې رئیسې میا پارک، د بېړنیو حالاتو مسؤل فهیم صافي او د اړیکو مسؤل محمد سلیم خالد سره په خپل کاری دفتر کې وکتل.
ترابی صاحب له هر څه وړاندې د IOM پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې IOM سازمان تل زموږ سره په بشری او تخنیکی مرستو کې بی سیاری همکاری کړی ده چې موږ ورڅخه ځانګړې مننه کوو او په راتلونکې کې یې هم پر همکاریو ټینګار وکړ.
همداراز یې وویل چې مخکې په دې اداره کې د یاد سازمان دفتر فعال وو، خو اوس مهال یې دفتر غیر فعال دی که چېرې یاد سازمان خپل دفتر فعالوی موږ ورسره پوره همکاری کوو او کله چې یو کار یا هم پروژه مخ ته وړو باید په کار کې پوره شفافیت شتون ولری او د اصولو په چوکاټ کې وی.
د IOM سازمان نوې ګمارل سوې رئیسې میا پارک له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له سرپرست څخه مننه وکړه چې موږ ته مو وخت راکړ او زیاته یې کړه چې یادې ادارې تل زموږ سره په طبیعی او غیر طبیعی پېښو کې زیاته همکاری کړې ده او موږ به تل هڅه کوو چې د دې ادارې سره همکاره پاته سو.
میاپارک زیاته کړه چې موږ د اقلیمی بدلون د زیانمنو په اړه څېړنه کوو چې څومره کسان د اقلیمی بدلون څخه زیانمن کېږی ترڅو موږ پر وخت تدابیر ورته ونیسو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لس کسه رییسان او کارکوونکی د پېښو او زلزلې په اړه ورکشاپ کې د ګډون په موخه ترکیې هېواد ته سفر وکړ



د ترکیې هېواد لخوا د زمینې برابرولو او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې محترم مقام د لارښوونې پر بنسټ، د دې ادارې لس کسه مرکزی او ولایتی رییسانو او کارکوونکو د پېښو او زلزلې مدیریت په اړه ورکشاپ کې د ګډون په موخه ترکیې هېواد ته سفر وکړ.
دا ورکشاپ چې د څو ورځو لپاره په ترکیه هېواد کې ترسره کېږی, په پام کې ده چې دغه لس کسیز ټیم به پکښې د بیلا بیلو هیوادونو د پېښو مدیریت اړوندو ادارو د استازو په شمول ګډون وکړی او د ګډون کوونکو هیوادونو له استازو سره به خپلې دوه اړخیزې تجربې شریکې کړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د کنسرن نړيوالې مؤسسې تر منځ د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک سوه




له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابی د کنسرن نړيوالې مؤسسې د پروګرامونو مسؤل نايجل ايلمز او د اړيکو مسؤل عبدالحق شريفی سره په خپل کاری دفتر کې وکتل.

ترابی صاحب د يادې مؤسسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووېل او د ژمنی توکو پر ژر رسيدنه يی زيات ټينګار وکړ او ويې ويل چې تر بل هر وخت کورنۍ په ژمی کی هر ډول مرستو ته اړتيا لری.

همداراز ترابی صاحب وويل چې په هر ولايت کې مؤسسې مرستې وېشی او يا هم سروې کوی موږ ورسره د دولت په اصولو اوچوکاټ کې پوره همکاره يو ځکه موږ په هر ولايت کی رياستونه لرو.

د کنسرن نړيوالې مؤسسې دپروګرام مسؤل نايجل ايلمز وويل چې ياده مؤسسه په ۱۹۹۸ کال کې فعاليت پيل کړی دی او تل يې د سيلاب ځپلو؛ مهاجرينو، زيانمن شوو، روغتيا او زراعت په برخه کی همکاری کړې ده.

ايلمز د يادې ادارې له سرپرست څخه ځانګړې مننه وکړه چې تل يې زموږ سره په هره برخه کې همکاری کړې ده او زموږ ملاتړ يې کړی دی.

ديادونې وړ ده چې ياده موسسه د ۶۵۰۴۵۱ شپږ لکه پنځوس زره څلور سوه يو پنځوس ډالرو په ارزښت له ۱۶۱۳ زيانمنو کورنيو سره ۲۷۴ ډالر د سون توکو او ژمنی جامو لپاره مرسته کوی او د ۵۷ ډالرو په ارزښت د درېيو ژمنيو کمپلو مرسته کوی، چې دا مرستې به د تخار ولايت په فرخار ولسوالۍ کې ۷۹۰ کورنيو او د بدخشان ولايت په تيشکان ولسوالۍ کې ۸۲۳ کورنيو ته ويشل کېږی.

## د ننګرهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست له ۱۰۲ زيانمنو کورنيو سره خوراکی مرستې وکړې



له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د RRDPO مؤسسې ترمنځ د تفاهم‌نامې لاسليک له مخې، د ننګرهار له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست په همکارۍ، د دره نور او کوز کنړ ولسواليو ۱۰۲ زيانمنو کورنيو ته د خوراکی توکو مرستې وويشلې.

د مرستو توکی چې هرې کورنۍ ته ورکړل شول، پکې ۱۰۰ کيلو اوړه، ۹.۱ کيلو غوړی، ۱۲.۵ کيلو دال، ۱ کيلو مالګه، انرژی لرونکی بېسکېټونه، او د 5 کلونو څخه کم عمره ماشومانو او مېندو لپاره ځانګړی مغذی مواد شامل وو.

د يادونې وړ ده چې د مرستو ترلاسه کوونکو خلکو له يادې ادارې او مرسته کوونکو مؤسسو څخه مننه وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د تېرو مرستو په دوام یو ځل بیا په کابل کې ۵۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د دې ادارې د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس ملا جانان سائق، د بېړنیو عملیاتو رئیس قاری خوشحال زمانی او د خبریالانو په ګډون، په کابل ولایت کې د پېښو له امله ۵۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

محترم ترابی صاحب وویل چې د تېرو مرستو په دوام، د هغو مرستو تر څنګ چې د موسسو په همکارۍ ترسره کېږي، له پیښو سره دمبارزی امادګی ملی اداره هم ډېری وختونه په اونیز ډول د پېښو له امله زیانمنو ته د خوراکي او غیر خوراکي مرستو وېش ترسره کوی. نوموړي زیاته کړه چې نن ورځ ۵۰۰ کورنیو ته چې د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې د پېښو له امله زیانمنې شوې وې، خوراکي او غیر خوراکي مرستې چې ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، دوه جمپرونه او یوه کمپله پکې شامل دی، هرې کورنۍ ته وېشل سولی . نوموړي په دې ترځ کې د مرستو د بهیر د شفافیت او د موسسو او مرستندویو بنسټونو سره د تفاهم‌نامو د لاسلیک یادونه هم وکړه. هغه زیاته کړه چې د راتلونکی ژمی په جریان کې به نه یوازې په کابل، بلکې د هېواد په ټولو ولایتونو کې هغو کسانو ته چې د پېښو له امله زیانمنېږی، پر وخت سره مرستې ورسوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست له زیانمنو خلکو سره خواخوږۍ څرګنده کړه او هغوی ته یې وویل: "دا مرستې اوس مهال زموږ په واک کې دی او تاسو ته مو ووېشلې او په راتلونکی کې هم هڅه کوو چې نورې مرستې هم درته برابرې کړو."

د یادونې وړ ده چې د دې مرستو ترلاسه کونکو له مسؤلینو مننه وکړه او د دې پروسې د دوام او زیاتوالی غوښتنه یې وکړه.

## د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۸۰ زیانمنو کورنیو سره خوراکي مرستې وکړې



د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۲۸۰ زیانمنو کورنیو او یتیمانو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

د یادونې وړ ده چې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ماین پاکۍ مؤسیسو د مسؤلینو سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د ماین پاکۍ د نړیوالو او داخلی مؤسیسو د مسؤلینو سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب له هرڅه مخکی د ماینونو دمؤسیساتو مسؤلینو او استازو ته ښه راغلاست ووایه او وویل چی په هیواد کی زیات ماینونه ښخ سوی دی اوس چی دامارت په راتګ سره امنیت راغلی دی باید ټول بیرته شنډ کړل سی ترڅو انسانان او حیوانات ورڅخه په امن کی سی.

همدارار یی زیاته کړل چی تر بل هر وخت اوس ښه زمینه برابره ده چی یادی مؤسیسی خپل کارونه چټک کړی او ژر تر ژره په ناچاودو توکو ککړی سیمی دماینونو څخه پاکی کړی او خلګ دخطر څخه وژغورل سی.

دماین پاکۍ مؤسیسو مسؤلینو دیادی ادارې له سرپرست څخه مننه وکړه او خوښی څرګنده کړه او وویل چی موږ خوښ یو چی په ډاډمنه فضا او سالمه اداره کی خپل کارونه مخ ته بیایو او موږ په زیاته اندازه ځمکه له ماینونو څخه پاکه کړی ده او لاهم هڅه کوو چی په ماینونوککړی سیمی دناچادو توکو څخه پاکی کړو

ورسته دمؤسیسو مسؤلینو او استازو یو شمیر غوښتنی درلودلی چی ترابی صاحب ورسره دحل په موخه ژمنه وکړه او وویل چی موږ به پر یادو غوښتنو باندی پوره غور وکړو .

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۸ زیانمنو کورنیو سره نغدی مرستې وکړې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اسلامیک ریلیف موسسې په مالي ملاتړ، په ارغستان ولسوالۍ کې ۸ کورنۍ چې د سېلابونو له امله يې کورونه ویجاړ شوي وو یاد شمېر کورنیو ته نغدي مرستې.

د یادونې وړ ده چې ۶ کورنیو ته ۶۷۶۰۰ افغانۍ هرې کورنۍ ته، یوې کورنۍ ته ۱۰۹۰۰ افغانۍ او پاتې نورو هرې کورنۍ ته ۷۸۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## له پیبنو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې او د اسلامی هوساینی مؤسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه




له پیبنو سره د مبارزې امادگۍ سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او د اسلامی هوساینی مؤسیسې سرپرست دبنګلادیش هیواد اتباع شریف احمد، د اړیکو مسؤل میرویس ستانګزی او دبشری مرستو مسؤل حذیفه هلال سره وکتل.
ترابی صاحب د یادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړل چی په تیرو میاشتو کی مو هم د یادی مؤسیسې سره تفاهم نامې لاسلیک کړی دی او خوښ یو چی نن یو ځل بیا تفاهم نامه لاسلیک کوو او په دې سره به زیات خلګ داقلمی بدلون په اړه عامه پوهاوۍ تر لاسه کړی.
همدارنګه ترابی صاحب وویل چی هر ډول پروژې عملی کیږی باید په پروژو کی پوره شفافیت وی او خلګ پر وخت دپروژې دګټو څخه برخمن سی.
د اسلامی هوساینی مؤسیسې سرپرست شریف احمد وویل چی یاده مؤسیسه په بیلابیلو برخو کی د خلګو سره مرستی کوی چی یو برخه یی د طبعی او غیر طبعی پیښو په اړه خلګو ته عامه پوهاوۍ ورکول دی او همداراز تل یې د سیلاب ځپلو؛ مهاجرینو او پیښو ځپلو سره همکاری کړی ده.
دیادونی وړ ده چی یاده موسسه د ۴۰۹۸۳ ډالرو په ارزښت په کابل، بامیان او بلخ ولایتونو کی د ۴۰ دولتی کارمندانو او ۴۰ غیر د دولتی مؤسیسو کارمندانو ته د اقلمی بدلون او د زیانونو څخه د خوندیتوب په اړه ټرینګ ورکوی همدارنګه به په ټولنیزو رسنیو کی خلګو ته د اقلمی بدلون په اړه عامه پوهاوۍ ورکوی .

## د تخار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۵۰ زیانمنو کورنیو سره نغدی مرستې وکړې

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکټیډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې, یادې موسسې د تخار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ, ۵۰ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې.
د یادونې وړ ده چې په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سرپناه د ترمیم لپاره د دویم قسط ۱۴۷۷۰ افغانۍ نغدي پیسې وویشل شوې.
د یادونې ده چې دا مرستې د زیانمنو د ملاتړ په برخه کې مهم رول لوبوي او له هغوی سره د سرپناه د بیارغونې او د ژوند په ښه کولو کې مرسته کوي.



# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په کابل ولایت کې د ۴۲۳ زیانمنو او راستانه شویو کورنیو لپاره د نغدی او غیرخوراکی مرستو د وېش لړۍ پیل کړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په داسې حال کې چې د کابل مرستیال والی ملا محمد یونس مخلص، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس مولوی نجیب‌الله انوری او خبریالانو هم شتون درلود، د کډوالۍ نړیوال سازمان لخوا د ۴۲۳ زیانمنو، راستانه شویو او اړمنو کورنیو لپاره د نغدی او غیر خوراکی مرستو د وېش لړۍ په کابل کې پیل کړه.

ترابي صاحب د دغو مرستو د پرانیستې پر مهال وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د کډوالۍ نړیوال سازمان ترمنځ د تفاهم‌نامې له مخې، نن ورځ د دغه سازمان له لوری د کابل ولایت په بېلابېلو ناحیو او ولسوالیو کی اړوند ۴۲۳ زیانمنو کورنیو ته نغدی  او غیرخوراکی مرستې ورکړلی، چې هرې کورنۍ ته ۱۷۲۰۰ افغانۍ نغدی پیسې او د ۱۶ قلمه توکی لرونکی یو ژمنۍ کېټ وویشل سو .

نوموړی زیاته کړه چې د دې ادارې او یاد سازمان ترمنځ د ۳.۵ میلیونه ډالرو په ارزښت د تفاهم نامې له مخې، ټاکل شوې ده چې د ژمنیو مرستو د وېش لړۍ به د جنورۍ میاشتې تر پایه په ټولو ولایتونو کې بشپړه شی.

د ادارې سرپرست ترابي صاحب د IOM سازمان څخه د مننې تر څنګ له نورو نړیوالو سازمانونو  څخه هم غوښتنه وکړه چې د سیاسی موضوعاتو  د په پام کې نیولو پرته خپلې بشردوستانه مرستې دوامداره او لا ډېرې کړی.

په همدې حال کې د کابل مرستیال والی ملا محمد یونس مخلص له دې سازمان څخه د مننې ترڅنګ وویل چې د افغانستان اسلامی امارت هڅه کوی چې د افغانستان ولس ته لا زیاتې مرستې برابرې کړی.

د یادونې وړ ده چې د دغو مرستو ترلاسه کوونکو د دې ادارې له هڅو خوښی او مننه څرګنده کړه چې د اړمنو خلکو د خدمت لپاره هڅې کوی.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۰۰ زیانمنو کورنیو سره غیرخوراکی مرستې وکړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ORCD موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، یادې موسسې د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همکارۍ، د یاد ولایت په بغلان مرکزی ولسوالۍ او مرکز پلخمری ښار کې ۲۰۰ کورنۍ چې د تېرو سېلابونو له امله یې کورونه ویجاړ شوی وو، یاد شمېر کورنیو ته غیرخوراکی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته د یاد ریاست او د استخباراتو ریاست ګډ پلاوی په شتون کې ۱ باب خیمه، د پخلنځی ۱ کېټ او ۵ تختې کمپلې وویشل شوې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ښځې افغان ښځو لپاره د مؤسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره دمبارزې  امادګی ملی اداری سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او دښځی افغان ښځو مؤسیسې رئیس فریدون نوری او د پروژی مسؤل شفیق الله سره په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب دیادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او  دژمنی توکو پر ژر رسیدنه یی زیات ټینګار وکړ او وویل چی تر بل هر وخت کورنۍ په ژمی کی هر ډول مرستو ته اړتیا لری.

همداراز ترابی صاحب وویل چی په هر ولایت کی مؤسیسات توزیع او یاهم سروې کوی باید په شفافیت او چټکۍ سره وکړی ترڅو خلک پر وخت د مرستو څخه برخمن سی.

د یادی مؤسیسې رئیس فریدون وویل چی زموږ مؤسیسه  په 22 ولایتونو کی فعالیتونه لری   او تل یی دسیلاب ځپلو؛ مهارجرینو، زیانمن شوو، روغتیا او پوهنی په برخه کی همکاری کړی ده.

ښاغلی نوری ددې ادارې دسرپرست ترابی صاحب څخه ځانګړی مننه وکړل چی تل یی زموږ سره په هره برخه کی همکاری کړی ده او زموږ ملاتړ یی کړی دی.

دیادونی وړ ده چی  یاده مؤسسه د ۳۸۸۴۲ ډالرو په ارزښت دهرات ولایت په زنده جان ولسوالۍ کی د ۲۵۰ زلزله ځپلو کورنیو سره د۱۵۵.۳۷ یو سل پنځه پنځوس اشار یې اوه دیرش ډالرو په ارزښت هری کورنۍ ته ژمنی مرسته ورکوی چی یو باب دروازه، یو تخته فرش، یوه تخته کمپل،یو دانه څادر، یودانه ټیکرۍ،یودانه،بخار دیګ، یودانه چاینر، او یودانه دچایو ترموز هر کورنۍ ته ویشل کیږی.

## د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۶۶۱ زیانمنو کورنیو سره خوراکی او غیرخوراکی مرستې وکړې



د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM موسسې په ملاتړ، د یاد ولایت په مرکز کې د وچکالۍ له امله ۶۶۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې.

په دې مرستو کې د یاد ریاست رییس مولوی محمد صابر احمد او د یادې موسسې استازی په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې او یو روغتیایی کېټ وویشل شول.

## له پیښو سره د مبارزې ملي ادارې آمادګۍ سرپرست په خپل کاری دفتر کې د ایمپ نړیوالي غیر انتفاعي مؤسیسې د رئیس او مل پلاوی سره ناسته وکړه



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د آیمپ نړیوالی غیر انتفاعی مؤسیسې د رئیس محمد بیلو او تخنیکی پلاوی سره وکتل.

ترابی صاحب له هرڅه مخکی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وواېه او وویل چې افغانستان هغه هیواد دی چی د طبعی او غیر طبعی پیښو له ګواښ سره مخ دی او موږ غواړو چی دوقایوی پروژو په برخه کی ډیر کار وکړو څکه وقایه کولای شی چی په لږ مصرف خلګ د ډیر زیان څخه وژغوری.

ترابی صاحب وویل چی په ۳۴ ولایتونو کی موږ د خطر نقطې معلومی کړی دی او غواړو چی په خپل وخت کی د خطرونو مخنیوۍ وکړو ترڅو خلګو ته زیان ونه رسیږی همداراز ده وویل چی یوازی د کابل ولایت په ښار کی ۷۴ خطرناکه ډبری وجود لری چی په سلګونو کورونه یی تر تحدید لاندی دی چی باید ژر تر ژره په خوندی ډول دهغو مخه ونیول سی.او په خوندی توګه ماتی سی ترڅو تر خطر لاندی کورونه یی د تحدید څخه وساتل سی.

وروسته د آیمپ نړیوالی غیر انتفاعی مؤسیسې رئیس محمد بیلو دیادی ادارې د سرپرست څخه ځانګړی مننه وکړه چی تر بل هر وخت اوس مؤسیسې غواړی چی دیادې ادارې سره همکاری وکړی او موږ هم غواړو چی له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره همکاری وکړو.

همدازار محمد بیلو وویل چی یاده مؤسیسه په ۲۰۱۰ کال کی فعالیت پیل کړی دی چی د معلوماتو دمدیریت او د پیښو خطرونو کمولو په برخه کی کار کوی.

دغونډی په ورستیو کی پر بیړنیو حالاتو او بیړنیو پروژو باندی د اړیکو پر ساتلو ټینګار وسو.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۵۲ زیانمنو کورنیو سره د کورونو د ترمیم لپاره نغدی مرستې وکړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، ۵۲ کورنیو ته چې د طبیعی پېښو له امله یې کورونه ویجاړ شوی وو، یاد کورنیو ته د کورونو د ترمیم په موخه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د یاد ریاست رییس مولوی فیض الله جلالی او د موسسې استازی په شتون کې هرې کورنۍ ته له ۱۱۵۰۰ نه تر ۱۶۰۰۰ افغانیو نغدی پیسې ووېشل شوې.

ورته مهال مولوی فیض الله جلالی زیانمنو کورنیو ته ډاډ ورکړ چې د افغانستان اسلامی امارت په هر ډول شرایطو کې ستاسو ترڅنګ ولاړ دی، او هڅه کوی چې ستاسو لپاره د لا زیاتو مرستو زمینه برابره کړی.

## نیمروز ولایت ته د پیښو له امله احتمالي زیانمنو سره د مرستو په موخه څو ټنه خوراکی او غیرخوراکی توکی ولېږدول شول



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د محترم سرپرست په لارښوونه, نن ورځ څو ټنه خوراکی او غیرخوراکی توکی د پیښو له امله احتمالی زیانمنو سره د مرستو او د خواخوږۍ لپاره نیمروز ولایت ته ولېږدول شول.

په مرستو کې ۴۵۰ بورۍ اوړه ۵۰ کیلویی, ۴۵۰ بورۍ وریجې ۲۵ کیلویی او ۵۰۰ فیسه ژمنی البسی شاملې دی او په په پام کې ده چې د نیمروز ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست لخوا به مستحقینو ته وویشل سی

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث تخار برای ۵۵ خانواده جهت ترمیم منزل مساعدت نقدی کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار با حمایت مالی موسسه محترم اکتید، مرحله دوم توزیع کمک‌های نقدی را جهت ترمیم سرپناه‌های متضررین سیلاب‌های اخیر در ولسوالی خواجه غار آغاز کرد.

این کمک‌ها، که به تعداد ۵۰ خانواده در قریه‌های مینگ چقور، خوش کیلدی و تایمنی را تحت پوشش قرار می داد برای هر خانواده مبلغ ۲۲۰ دالر آمریکایی معادل ۱۴۷۷۰ افغانی توزیع شد.




## د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۶۴ بېوزله کورنیو سره نغدی مرستې وکړې




د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالی ملاتړ ۱۶۴ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې.

دا مرسته، چې د دویم پړاو په ترڅ کې وشوه, هرې کورنۍ ته ۲۷۰۰ افغانۍ ورکړل شوې، او په مجموع کې ۴۴۲۸۰۰ افغانۍ وویشل شوې.